# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۱۰۳ مه گڼه • پنجشنبه • د لړم ۲مه • ۱۳۹۸




۹

# په پکتیا کې د ۱۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د ۱۰۳ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو



٤

**په تخار کې د ۱۰۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د جوي شیخ اتصالي سړک کار بشپړ شو**



٦

**په کاپیسا کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پرمختیایي پروژې کار روان دي**

# په تیره یوه اونۍ کې په ۵ ولایتونو کې د ۵ ښوونځیو جوړولو کار روان و

۲/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په ۵ ولایتونو کې د ۵ ښوونځیو جوړولو کار روان دی.

دا ښوونځي د زابل ولایت په ترنک او جلدک، د بلخ په شولگره، د کندز په علي اباد د کندهار په ارغنداب او د هرات ولایت په کرخ ولسوالیو کې جوړیږي .

هر ښوونځي به ۸ یا ٦ ټولگي، تشنابونه او د ښناک د پاکو اوبو ځاگانې ولري.

ددې پروژو په ترڅ کې زرگونه کاري ورځې رامنځ ته شوي او په بشپړتیا سره به یې ۱٤۹۳ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ او سالم چاپیریال چمتو شي.











# په کندهار کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کرنیز کانال کار روان دی

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام له لوري د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ په حاجي عبیدالله کلي کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو د یوه کرنیز کانال کار روان دی.


دا کانال ۱۸۰۰ متره اوږد دي او د کار په اوږدو کې یې فني او نافني کارگرو ته ۱۲۰٦ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي. د پروژې په بشپړتیا سره به ۱٤۰ جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي او ۷٤ کورنۍ به یې له گټې برخمنې شي.

# په کاپیسا کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پرمختیایي پروژې کار روان دي

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروگرام له لوري د کاپیسا د نجراب ولسوالۍ له باغ امان کلي د پته درې تر متان کلي پورې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲.۰۷ کیلو متره سړک او د سړک په اوږدو کې د ۳٤ متره اوسپنیز کانکریټي پل جوړولو کار روان دي.

ددې پروژې په ترخ کې گڼ شمیر خلکو ته د کار زمینه برابره شوې او تر بشپړتیا وروسته به یې د هغو کلیو د وسیدونکو ترانسپورټي ستونزې هوارې شي چې دا سړک ترې تیریږي.





# په تخار کې د ۱۰۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د جوي شیخ اتصالي سړک کار بشپړ شو

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د لار جوړونې د ملي پروګرام له لوري د ۱۰۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د تخار د مرکز اړوند د تالقانو په جوي شیخ کې د ۱۷۵ متره پل او د هغه د اتصالي سړک کار بشپړ شو.

ددې پروژې په ترڅ کې ۱۰ زره کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړتیا سره یې د نمک اب ولسوالۍ په ګډون، جوي شیخ، قلعه، چقل قشلاق پاین، چقل قشلاق بالا، حاجي ها، شاه باي ها، سر اسیاب، بابه خان پهلوان او تکه تیمز کلي له مرکز تالقان سره وتړل شول. د یادونې وړ ده چې د بدخشان- کابل مسیرګاډي به هم اوس پر دې لاره ځي.




# په کنړ کې د ٤.٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې دوه پروژې بشپړې شوې

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام له خوا د کونړ ولایت د اسعد مرکز اباد په دام کلي کې او د دانګام ولسوالۍ په چینارناو کلي کې د ٤.٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې ۲ پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

ددغو دوو پروژو په بشپړتیا سره ۳۰۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسي پیدا کړ.

# په کندهار کې د ٦٣٥ زره افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې یوه شبکه جوړه شوه

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ملي پیوستون پروګرام له لوري د کندهار د تخته پل ولسوالۍ په عبدالحبیب کلي کې د ٦٣٥ زره افغانیو په لګښت د ۱۰ زره لیترو په ظرفیت د څښاک د اوبو رسونې یوه شبکه بشپړه او ګټې اخستنې ته وسپارل شوه.

ددې پروژې په ترڅ کې فني او نافني کارګرو ته ۷۱ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې، په دې سره ۳۸ کورنیو ته د څښاک پاکې او صحي اوبه چمتو شوې.





# په کاپیسا کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پرمختیایي پروژې کار روان دی

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروګرام له لوري د کاپیسا د نجراب ولسوالۍ له باغ امان کلي د پته درې تر متان کلي پورې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲.۰۷ کیلو متره سړک او د سړک په اوږدو کې د ۳٤ متره اوسپنيز کانکریټي پل جوړولو کار روان دي.

ددې پروژې په ترڅ کې ګڼ شمیر خلکو ته د کار زمینه برابره شوې او تر بشپړتیا وروسته به یې د هغو کلیو د وسیدونکو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي چې دا سړک ترې تیریږي.



# په ننگرهار کې د ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳.۸ کیلو متره سړک هوکړه لیک لاسلیک شو

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د ننگرهار د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست او اړوندو پرمختیایي شوراگانو تر منځ په کامې ولسوالۍ کې د ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳.۸ کیلومتره سړک جوړولو تړون لاسلیک شو. دا سړک چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د لارجوړولو د ملي پروگرام له لوري جوړیږي تر بشپړتیا وروسته به یې ۱۷ زره وگړي له ترانسپورتي اسانتیاوو برخمن شي.

# په ننگرهار کې پر غالۍ اوبدونکو د خوندیتابه بستې وویشل شوې

۲۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد پرمختیا پروگرام په ننگرهار ولایت کې په ۱۰۰۰ تنو غالۍ اوبدونکو د خوندیتابه بستې وویشلې او تر څنگ یې د غالۍ اوبدونکو د دستگاوو د څار دنده د هغوی ۲۰ تنو استازو ته وسپارله. ویشل شوې بستې د غالۍ اوبدونکو د روغتیایي ستونزو د مخنیوي په موخه ویشل شوې دي، ځانگړې جامې، ماسکونه، کثافت دانۍ او ملاتړونې په دغو بستو کې شامل توکي دي. د یادولو ده چې تر اوسه دغو غالۍ اوبدونکو ۲۸۰۰ متره غالۍ اوبدلې چې د کلیوالي اقتصاد په پرمختگ کې پام وړ رول لري.





## په لغمان کې د څه کم ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۴۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

۱۳۹۸/لړم/۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا زوارت له لوري د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د مته پنګ گورگندې په سیمه کې د یونیسف اداري په مالي مرسته د څښاک د پاکو اوبو یوه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارله، چې ۴۰۰ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابرې وي.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا رئیس امان الله میاخېل د معلوماتو له مخې د اوبو د پایپ سکیم شبکه د ۳۰ مکعب مترو په حجم د اوبو ذخیره او ۲۳ د اوبو شېردانونه لري، چې وربانډې څه کم درې میلیونه افغانۍ لگښت شوي.

## په کندهار کې د ۲.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۱/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د پنجوایي ولسوالۍ په ماکان او موسی کلیم کلیو کې د ۲.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د سولري پمپونو دوه پروژې بشپړې او گټې اخستنې ته وسپارل شوې ددې پروژو په ترڅ کې ۳٦٤ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او اوس ترې ٦٤٤٠ تنه گټه پورته کوي.





# په پکتیا کې د ۱۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د ۱۰۳ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو

۱۳۹۸/لړم/۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د اقراء پروژې تر سیوري لاندې د پکتیا ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۱۰۳ ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړولو کار رسماً پیل شو.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي په پکتیا کې په همدې تړاو جوړو شویو مراسمو ته وویل، چې په پکتیا کې به د لس میلیونه ډالرو په ارزښت ۱۰۳ ښوونځیو ته ودانۍ جوړې شي، چې ٤٣ زره زده کوونکو ته به د ښوونې او روزنې وړ چاپېریال برابر کړي.

د ښاغلي کریمي په وینا یاد وزارت توانیدلی، چې په ۱۳۹۸ کال کې په پکتیا کې د ځښاک

اوبو چمتو کولو، ترانسپورټ، اوبه خور، د مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا او کلیوالي سیمو ته د برېښنا رسونې په برخه کې ۱۳۲ پروژې بشپړې کړي، چې ۱۲۳ میلیونه افغانۍ ارزښت لري او ۱۳۷۰۰۰ کاري ورځې یې ایجاد کړي وې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر ویل، چې د اوبو رسونې، اوبه خور، اقتصاد، ترانسپورت او انرژۍ په برخو کې د ۹٦۷ میلیونه میلیونه افغانیو په ارزښت د څه کم ٦۰۰ سوه پروژې پلان شوي، چې څه کم څلور سوه زره کورنۍ به تري گټه واخلي او اوس په پکتیا کې د ۲٦۳ پروژو کارونه روان دي، چې په ترڅ کې به دوه لکه او څلوېښت زره کاري ورځې رامنځته شي.

د دې ترڅنگ د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، چې د لېرې پراتو سیمو لپاره د لمریزې برېښنا د برابرولو په برخه کې ځاځي اریوب او ډنډپټان ولسوالیو کې د ۱٤٦٦٥ کورنیو سروې شوې او همدا راز باید ووایو چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد پرمختیا پروگرام توانیدلي، چې د مرکز گردیز او احمد اباد ولسوالۍ ۱٦۱ کلي تر پوښښ لاندې راولي او د سپما ۱۲۸۸ گروپونه به جوړ کړي، چې له دې ټولنو سره ۸٦،۹ میلیونه افغانۍ مرسته هم کېږي او اوس په پکتیا کې ۱۲۸۸۰ وگړي چې ډېري یې ښځې دي، د دې پروگرام څخه گټه اخلي.







# په زابل کې د ۱۰.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۱/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو همغږۍ دفتر له خوا د میزان ولسوالۍ په کوشک، ساوت او میرانو کلیو کې د اوبه خور د کاریزونو او د اوبو د زیرمو ۳ پروژې د ۱۰.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې. ددې پروژو په ترڅ کې ۵٦۱٤ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړتیا سره یې ۱۷۵۰ تنه ولسي وګړي د هغو له ګټو برخمن شول.

# په تخار کې د ٤.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۰ کیلومتره سړک جوړولو کار پیل شو

۲/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو پروګرام له لوري د تخار ولایت له اق کوکچه خخه د کلفګان ولسوالۍ ترګرمسیر پورې د ٤.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۰ کیلومتره سړک جوړولو کار پیل شو. دا سړک چې ٤.۵ متره پلن دي د دوو میاشتو په ترڅ کې به پرې کریږ واچول شي او ددې چارې په بشپړتیا سره به باغ بالا، جلدراق، چهارتوت، ګرم سیر، دندان شکن، دشت راغ او دشت قاضي کلي د کلفګان- کشم له عمومي سړک سره وتړل شي د یادونې وړ ده چې ۸۰ متره استنادي دیوال جوړول هم ددې پروژې برخه ده. په دې ترڅ کې به ۷۲۰۰ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي.

